**سپما؛ د راتلونکی هوساینه**

سپما د ټولو وګړو په ژوند کې ډېر ارزښت لرونکې موضوع ده او هر څوک د دې هیله لري چې له خپلو میاشتنیو حقوقو یوه برخه سپما کړي. که څه هم د سپما خبره آسانه ده، خو په عمل کې سخت ښکاري، خو له دې سره سره بیا هم دومره سخته نه ده.

ممکن تاسو خپلو میاشتنیو حقوقو ته په کتلو سره ووایاست چې له دومره کمو حقوقو سپما ناشونې ده او نه شی کولای چې سپما وکړئ. ټول هغه کسان چې اوس شتمن دي په لومړیو کې همدا ستاسو له اوسني برخلیك سره مخ ؤ، خو کلک هوډ یې درلود او د خپل راتلونکي ژوند د ښه والي لپاره یې موخې ټاکلې وي، له لږ یې سپما شروع کړه او د وخت په تېریدو سره یې ډېر څه تر لاسه کړل. تاسو هم د هغوی په پله پل کېږدی او راتلونکې مو روښانه کړئ.

که تاسو اوس لږ تر لږه ښه ژوند لرئ او فکر کوئ چې په راتلونکې کې به هم له ستونزو سره مخ نه شئ، نو شاید دا پوښتنه هم درته پیدا شي چې څه اړتیا لرئ چې سپما وکړئ؟ په همدې مقاله کې د سپما په اړتیا بحث کوو.

سپما مو د ښه ژوند د چارو په مدیریت کې مرسته کوي، که تاسو له دې وړاندې د خپلې روښانه راتلونکې لپاره سپما کول نه وي پیل کړي؛ همدا نن دا چاره پیل کړئ، د سپما کچه چې هر څومره لوړیږي په همغه کچه د ژوند د مدیریت چارې په ښه ډول مخته ځي او آسانتیاوې رامنځته کیږي.

فرض کړئ هغه شرکت او اداره چې تاسو په کې کار کوئ او یا هم ستاسو خپل شرکت له مالي او اقتصادي ستونزو سره مخ کیږي، چارې یې دریږي او خپله دنده له لاسه ورکوئ، اړ یاست چې د خپل ژوند د پر مخ بیولو لپاره داسې لارې ولرئ چې د هغې پر بنسټ مخته لاړ شئ.

نو که تاسو له وړاندې د دې ستونزې د حل لپاره سپما کړې وي، چا ته به مو لاس اوږد نه شي او تر هغې چې بله دنده مومی له خپلو سپما شویو پیسو ګټه پورته کولای شئ.

له بله اړخه سپما کول تاسو ته د ښې راتلونکې په اړه ډاډ درکوي، که سپما وکړئ د ژوند هرې ښې او بدې پېښې لپاره به پوره چمتو یاست او دا ډاډ به ولرئ چې د ورته پېښو پر مهال به له اقتصادي ستونزو سره نه مخ کیږي.

ښې او بدې ورځې له هېچا لرې نه دي، خو که تاسو د دغه ډول ورځو لپاره له وړاندې پلان نه وي جوړ کړی او سپما مو نه وي کړې، په راتګ سره به یې له اقتصادي ستونزو سره مخ شئ او به نه شئ کولای چې پر وخت سره ورته رسېدنه وکړئ.

نو که غواړئ چې د خپلې ښې راتلونکې په اړه ډاډمن شئ او په آرام ذهن سره ژوند وکړئ، د سپما لپاره لاسونه بډ وهئ او د ژوند د ښو او بدو ورځو لپاره مو همدا نن که څه هم ډېره کمه هم وي، پر سپما پیل کړئ.

د نن سپما د سبا لپاره د پانګې‌اچونې لپاره لار پرانیزي، که غواړئ چې له تقاعده وروسته مو بل ته د احتیاج ګاللو لاس اوږد نه وي او مالي خپلواکي ولرئ د خپل سبا لپاره مو د پانګې‌اچونې لپاره زمینه برابره کړئ.

دا مهال د نړۍ په ډېری هېوادونو کې وګړي له تقاعد وروسته له زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان وي، حتی خپل اولادونه یې ورته ګټه نه شي رسولای، خو که تاسو د خپلې ښې راتلونکې لپاره سپما کړې وي نه یوازې دا چې خپله به مالي خپلواکي ولرئ، بلکې له خپلو اولادونو سره به مو هم مرسته کړې وي.

د سپماپورتنیو یادو شویو او نورو ګټو ته په کتلو سره ویلای شو چې سپما ستاسو د ژوند رڼا ده او که غواړئ چې د ژوند دا رڼا مو تیاره نه شي همدا نن سپما پیل کړئ او د یوې ښې راتلونکې لپاره شپې او ورځې و شمارئ.

سرچینې:

۱ - چرا باید پس انداز کنیم؟

د خپرېدو نېټه: ۲۲حوت۱۳۹۸/ واګویه

https://vaagooye.com/why-save-money/

۲ – لس دلیلونه چې باید تاسو پیسې سپما کړئ

Learn how to save money and make smart financial choices/ My money coach

https://www.mymoneycoach.ca/saving-money/why-save-money